د کونډې او مسکینانو پالنه کوونکی د هغه چا په څېر دی چې د الله په لاره کې جهاد کوي، او یا د هغه چا په څېر دی چې د شپې ولاړ وي (تهجد کوي) او د ورځې روژه نیسي

له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "د کونډې او مسکینانو پالنه کوونکی د هغه چا په څېر دی چې د الله په لاره کې جهاد کوي، او یا د هغه چا په څېر دی چې د شپې ولاړ وي (تهجد کوي) او د ورځې روژه نیسي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې هغې ښځې ته پاملرنه وکړي چې خاوند یې مړ شوی وي او څوک یې نه وي چې د چارو سرپرستي یې وکړي، همدا رنګه اړمن مسکین ته او د الله جل جلاله د ثواب په تمه په دوی مصرف کوي؛ نو دی په اجر او ثواب کې د هغه چا په څېر دی چې د الله جل جلاله په لاره کې جهاد کوي، یا د هغه تهجد کوونکي په څېر چې نه ستړی کیږي، او هغه روژه نیونکی چې پرلپسې روژه وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3135